# په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان کډوالو حقوقي وضعیت او د هغوي پر وړاندې د افغانستان اسلامي امارت مسئولیت

**لیکوال: عبدالحمید ظهیر**

**علمي او تحقیقي رساله**

**درېیمه برخه:**

**۳: د ګاونډیو هیوادونو له لوري په یو واري ډول د مهاجرینو راویستولو اغیزې او عواقب**

دا چې د افغانستان دننه حکومت او ټولنه دې ته نه ده تیاره چې په یواري توګه د میلیونونو مهاجرو لپاره امکانات او سهولتونه برابر کړي نو د ګاونډیو هیوادونو په ځانګړې توګه پاکستان پریکړه چې ټولو افغان مهاجر به خپل هیواد ته ستنوي او عملاً یې دا کار پیل کړی همدارنګه د ایران له هیواد څخه هم هره لحظه دا ډول تؤقعه کیدلای شي نو افغان حکومت او ټولنه به هم له یو لړ ستونزو او منفي عواقبو سره مخ کړي چې مهمې یې په لاندې توګه دي.

**الف:** په اقتصادي لحاظ د حکومت کمزورتیا او کافي امکاناتو نشتون یو له مهمو مؤضوعاتو څخه دي چې ټولو راستنیدونکو مهاجرو ته لومړني خدمات (خوارکي توکي، مسکن، صحي او تعلیمي خدمات...) په یوځایي توګه برابرولو برخه کې به حکومت له جدي ستونزو سره مخ کړي.

**ب:** دا احتمال شته چې راستنیدونکي اکثره مهاجر به له خپلو اصلي ولایتونو څخه په نورو ولایتونو کې میشت شي او دا موضوع احتمالاً چې سیاسي او فرهنګي اختلافات او ناندرۍ د قومونو ترمنځ را پیدا کولای شي همدارنګه له دغه ډول تشې به د اسلامي امارت داخلي او بهرني مخالفین او مغرزې کړۍ، غلطه ګټه واخلي او د تل په څیر به منفي تبلیغات وکړي تر څو دا چاره د قومونو ترمنځ اختلاف رامنځ ته کړي.

**ج:** هغه مهاجر چې څو لسیزې مخکې له هیواد مهاجرت ته مجبور شوي او ګاونډیو هیوادونو ته تللي وه نن د هغوي دویم او دریم نسل بیرته هیواد ته راستنیږي په خپل  کلي او محل کې له ګڼو حقوقي ستونزو سره هم مخ کیږي چې تر ټولو مهمه ستونزه یې په ځمکو او جایدادنو باندې دعوې دي چې اکثریت یې یا ځمکه او جایداد نلري او یا  یې که لري هم د محلي خلکو او بعضې حالاتو کې د زور واکو لخوا غصب شوي دي،

همدارنگه داسې افغان مهاجر هم شته چې نه تذکره او نه کوم بل سند لري چې خپل هویت، غیر منقول ملکیتونه په داخل د هیواد کې د هغو په واسطه ثابت کړای شي چې په حقوقي لحاظ د اسلامي امارت لپاره یو مهمه ستونزه شمیرل کیدلای شي.

**۴: له ګاونډیو هیوادنو څخه د افغان مهاجرو باعزته راستنیدلو لارې چارې**

دا چې نن ورځ ګاونډیو هیوادونو پریکړه کړې چې افغان مهاجر نور له خپلې خاورې وباسي، په حقیقت کې که وکتل شي دا کار د مهاجرو او افغانانو په خیر هم ده، ځکه نور به افغان حکومت هم له پیغورنو او فشارونو خلاص شي او مهاجر به هم بیرته خپل ټاټوبي ته را ستانه شي، هغه خدمات او کار چې بهرنیو هیوادنو کې کوي خپل هیواد کې به یې ترسره او د هیواد په آبادۍ کې به رغنده رول ادا کړي، خو دا چې د مهاجرو ایستل د سیاسي وسیلې په توګه کارول کېږي د ګاونډیو هیوادونه دغه ډول روش او کړنه د ټولو اسلامي او بشري قوانینو خلاف کړنه ده، دا چې څنګه د افغان مهاجرو راستنیدلو ته زمینه برابره شي په په لاندې جلا عنوانو کې  ورته اشاره کوو.

**۴-۱: هغه مسئولیتونه چې افغان حکومت پورې اړه لري**

د دې لپاره چې مهاجر په باعزته او ښه توګه بیر ته خپل کور ته راستانه شي، نو یؤ سلسله مسئولیتونه اسلامي امارت ته متوجې کېږي، چې باید په جدي توګه ورته رسیدنه وکړي او مهم یې په لاندې ډول دي.

**الف:** لومړی کار چې افغان حکومت یې ترسره کړي هغه دا ده چې تر هر څه مخکې یؤ با صلاحیته او مسلکي پلاوی وګماري تر څو د مهاجرو په باعزته توګه راستنیدیلو په موخه پاکستان او ایران هیوادنو ته سفرونه وکړي، افغان حکومت نور باید د مهاجرینو د اوسیدو او په ګاونډیو هیوادونو کې د پاتې کېدو لپاره هغوی ته ننواتې او عذر ونکړي بلکې په تدریجي او باعزته توګه دې د افغان مهاجرینو په راستنیدلو توافقات سره وکړي، چې هم مهاجر په خپله خوښه او ټاکلي وخت خپل هیواد ته راستانه شي، هم یې منقولو اموالو ته د انتقال زمینه برابره شي او هم یې په کوربه هیوادونو کې د غیر منقولو اموالو سرنوشت تعین شي.

**ب:** دا چې افغانستان تازه له جګړو او ناخوالو راوتلی او نن ورځ له ګڼو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان ده، هغه ډول امکانات چې باید موجود وي د مهاجرینو د بیا ادغام او راستنیدلو برخه کې نشته په ځانګړې

توګه داسې یو حالت کې چې په یو واري توګه د ګاونډیو هیوادونو له لوري د مهاجرینو راستنیدلو لړۍ پیل شوې ده چې د دوي دغه کړنه یو بل بشري ناورین په داخل د هیواد کې رامنځ ته کولی شي، د دغه ډول ناورین د کابو کولو په موخه باید یوه مسلکي او با صلاحیته کمیټه و ګمارل شي چې په داخل د هیواد کې حکومتي او غیر حکومتي مرستې منسجمې او په نړیواله سطحه د ملګرو ملتونو سازمان په ګډون له نورو مرسته کونکو سازمانونو او موسساتو سره د همغږۍ او مرستو جلب کولو په موخه خبرې اترې تر سره او بشري مرستې راجلب کړي.

**ج:** د هیواد په داخل کې د حکومت، تجارانو او خیریه بنسټونو له لوري د مالي مرستو راټولولو په موخه یو ځانګړی کمیسیون جوړ او د راستنیدونکو مهاجرینو وضعیت ته د رسیدنې په موخه د لنډ مهال لپاره حد اقل (یو کال) د اوسیدو ځای، البسه، خوارکي توکي او نورو اولیه ضرورتونو په موخه اقدامات ترسره کړي.

**د:** په ټولنه کې راستنیدونکو مهاجرینو د بیا ځلي ادغام او دومداره اوسیدولو په موخه د ښارګوټو جوړل، د کار او کسب لپاره د زمینې مساعدول، د زراعت او کښت په موخه د ځمکې عادلانه ویشنې او داسې نورو اوږدمهاله برنامو په لاره اچولو لپاره پر وخت او عملي اقدامات تر سره کول.

**و:** تر ټولو مهمه دا چې د مهاجرینو وضعیت ته د رسیدنې په موخه د یو منظم پلان، او پالیسي رامنځ کول دي چې له عادي حالت څخه نیولې بیا تر اضطراري حالت پورې د مهاجروینو وضعیت ته ځواب ویونکې اوسي، همدارنګه د اوږد مهال لپاره یوې کلي او اساسي حقوقي تګلارې او چارچوکاټ روښانه کول دي چې د مهاجرینو لپاره د بیا ادغام ځایونو کې د کوربه سیمو ټولو ټولنیزو، قومي او فرهنګي مؤضوعاتو په نظر کې نیولو سره رامنځته شي.

### ۴-۲: هغه مسئولیتونه چې ګاونډیو هیوادونو پورې اړه لري

دا چې مهاجرت یواځې د څو ورځو او کلونو موضوع نه ده او نه هم یواځې د افغان مهاجرو شتون په نورو هیوادونو کې نن ورځ د بحث وړ خبر ده، بلکې مهاجرت یوه نړیواله او دوامداره مساله ده، نو ټول کوربه هیوادونه په ځانګړې توګه ګاونډي هیوادونه باید په ډیره حوصله مندۍ او دقت سره د افغان مهاجرو په وړاندې حد اقل د لاندې اصولو له مخې رفتار تر سره او خپل مسئولیتونه ادا کړي.

**الف:** د گاونډیو هیوادونو اسلامي، اخلاقي او بشري مسئولیت ده چې افغان حکومت سره له رسمي توافق وروسته په تدریجي توگه د یو منظم پلان له مخې د مهاجرو د را ویستلو لړۍ پیل کړي، او کومه لړۍ یې چې پیل کړې د طرفینو هیوادونو تر توافق و ځنډوي، د مهاجرو له شتون نورې سیاسي او فشار واردولو په موخه استفاده ونکړي، چې په دي برخه کې بیا هم افغان لوری تر ډیره باید هڅه وکړي چې کاونډیو هیوادنو ته په هر ډول چې کېږي قناعت ورکړي.

**ب:** دا چې دا څلور لسیزې گاونډیو هیوادونو افغان مهاجرو ته پناه ورکړې وه دا کار یې د قدر او ستاینې وړه ده خو دا پروسه باید په خوښۍ پای ته ورسوي نه دا چې په وروستیو کې د میلمه او کوربه ترمنځ تیرې خوښۍ په تاریخي خفگان او دښمنۍ بدلې شي.

**ج:** هغه افغان مهاجر چې په گاونډیو هیوادونو کې اوسیږي او په تدریجي توگه د ویستلو تر وخته د گاونډیو هیوادونو له لوري ټول محدودیتونه ورڅخه لرې شي، د توهین آمیزه کړنو او نیونو څخه یې مخنیوی وکړي، اساسي او ټولو بشري حقونو ته د لاس رسي زمینه ورته برابره کړي.

**د:** د افغان مهاجرو د راویستلو په وخت او زمان کې د ټولو بشري قوانینو په رڼا کې دي حقونه ورکړل شي، د مهاجرو ټول منقول او غیر منقولو اموالو سرنوشت باید روښانه او مهاجرینو ته یې د انتقال زمینه برابره کړي.

### ۴-۳: د افغان مهاجرو او بیرته راستنیدونکو برخه کې د نړیوالې ټولنې ونډه

دا چې مخکې مو هم یادونه وکړه افغانانو له هوس او خوشحالۍ مهاجرت ته مخه نه ده کړې بلکې همدا نړیوال وه (شوروي، امریکا + ناټو) چې افغانان یې د خپلو وحشیانه تیریو او تجازونو په نتیجه کې مهاجرتونو ته مجبور کړي وه، نو اوس هم یواځې د افغان حکومت مسئولیت نده چې مهاجرو ته رسیدنه وکړي بلکې په حقوقي، اخلاقي او بشري لحاظه د نړۍ هیوادونه، سازمانونه او خیریه بنسټونه مسئولیت لري چې د افغان مهاجرو په باعزته توگه بیرته راستنیدنه کې په لاندې برخو کې مرستې وکړي.

**الف:** په لومړي سره کې هغو هیوادونو ته قناعت ورکول چې هلته افغان مهاجر میشت دي په ځانګړې توګه پاکستان او ایران ته چې افغان مهاجر په ډله ایزه توګه له خپل هیواد څخه ویستلو ته په زور سره مجبور نکړي بلکې د مهاجرو د ایستلو لپاره په تدریجي توګه د طرفینو تر توافق وروسته ادامه ورکړي.

**ب:** په افغانستان کې د مهاجرینو بیا میشت کېدو برخه کې له افغان حکومت سره بشري مرستې وکړي تر څو په خپل وخت او ښه توګه د مهاجرو موضوع ته رسیدنه وشي، په ځانګړې توګه اوسنیو حالاتو کې چې د پاکستان هیواد څخه د مهاجرو په زور سره ایستلو لړۍ پیل شوې ده.

**ج:** په افغان حکومت د بهرنیو محدودیتونو او بندیزونو لرې کولو په موخه باید لازم اقدامات تر سره کړي په ځانګړې توګه اقتصادي برخه کې چې کوم محدودیتونه دي هغه باید لرې شي ترڅو د مهاجرو بحران ته په وخت او مناسبه توګه رسیدنه وشي.

**د:** بشري مرستې او د مهاجرینو بحران له سیاسي مسایلو باید جلا او په دې برخه کې له منفي تبلیغاتو او منفي ګزارشونو نشرولو څخه ډډه وکړي او هغه حقایق او واقعیتونه چې موجود دي درک کړي.

نور په راتلونکو ګڼو کې ان شاالله.....